مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ ۲۰۲۳/۰۴/۱۱

# د افغانستان جمهوریت د سقوط عوامل
## د پاکستان رول
(دیارلسمه برخه)

### د پاکستان جوړښت او پاشل


(محمد اقبال، شاعر او فیلسوف)

له هند څخه د پاکستان په نوم د سیمو د بېلولو مفکوره د انګلستان د کیمبرج پوهنتون یو محصل چودري رحمت علي له خوا وړاندې شوې وه، تر څو د مسلمانانو په نوم یو بېل هېواد رامنځ ته شي او «سر محمد اقبال، شاعر او فیلسوف (چې اصلاً د کشمیر د هندوانو د برهمني کورنۍ څخه ؤ) د پاکستان جوړلو له لومړنیو مدافعانو څخه ؤ او د دغه فکر په زیانونو هم پوه ؤ، هغه پوهیده چې د پاکستان د جوړولو نظریه د ټول هند لپاره په ځانګړي توګه د مسلمانانو لپاره زیانمنه ده. محمد اقبال(*) چې کله د شوروي اتحاد پرمخ تګونه ولیدل، د خپل عمر په وروستیو کلونو کې د هغه فکر او هاند د سوسیالیزم پر لور وخوځید. (جواهر لال نهرو: کشف هند. فارسي ژباړه: محمود تفضلي.۵۸۳مخ)

له هند څخه د پاکستان په نوم د جلا کیدلو تر ټولو مهم کس محمد علي جناح ؤ، جناح په دې نظر ؤ چې په هند کې دوه ډوله ملتونه شتون لري، یو هندو او بل مسلمان، د هغه دا ډول نظریه د دې لپاره وه چې د پاکستان په نوم یو هېواد رامنځ ته کړي.

-------------------------------------------------------

(*): داسې ښکاري چې د محمد اقبال شخصیت د وخت په بدلیدو سره څو ځلې بدلون موندلی وي، هغه مهال چې پاکستان نه ؤ رامنځ ته شوی نوموړی د یو متحد هندوستان پلوی ؤ او په دې هکله یې یوه ترانه هم ویلې وه چې د هند په ښوونځیو کې به مخکې له درس پیلیدلو څخه زده کوونکو (هندوانو- مسلمانو) په ترنم سره لوستله، که د اقبال دغه د یووالي ترانې ته وګورو او وروسته د هند د وېشلو مفکورې ته، هغه هم د مذهب پر بنسټ، د اقبال په افکارو کې څرګند توپیر ښکاري چې د خپل مشهور شعر پر خلاف له هند څخه د پاکستان د بېلولو غوښتونکی شو.

سارے جہاں سے اچھا ہندوستاں ہمارا

ہم بلبلیں ہیں اس کی، یہ گلستاں ہمارا

مذہب نہیں سکھاتا آپس میں بیر رکھنا

ہندی ہیں ہم، وطن ہے ہندوستاں ہمارا

ژباړه:

له ټولې نړۍ ښه دی زموږه هندوستان
موږ واړه بلبلان یو، زموږ دی ګلستان
مذهب نـه وایي مـوږ ته سبق د دښمنۍ
وطن مو هندوستان دی موږ یو واړه هندیان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

که رښتیا ووایو نو محمد علي جناح یوازې په نوم مسلمان ؤ، د اسلام سپیڅلی دین یې د سیاست لپاره وسله او وسیله ګرځولی ؤ«د جناح کورنی اصلاً د هندوانو څخه وه.» (کشف هند.۶۵۱مخ)



جناح چې پاکستانیان یې په بې خبرۍ سره د ملت بابا او قائد اعظم بولي، د هند د شعیه ګانو د یوې خرافاتي او ملاحده (اسماعیلیه) فرقې لاروی ؤ، د اسماعیلیه فرقې د مشر [درېم آغا خان سلطان محمد شاه] (*) په خبر د انګرېزانو لخوا روزل شوی ؤ، نوموړی پرته له انګرېزۍ ژبې، په اردو، هندي او یا د سیمې پر نورو ژبو نه پوهېده، د محمد علي جناح له ظاهري بڼې او د کورنۍ له چال چلند څخه ښکاري چې اسلامي مکلفیتونو ته، لکه د نورو اسماعیلیانو په څېر نه ؤ ژمن، څرنګه چې د یو اسلامي هېواد له رهبر سره ښايي، هغه شان قیافه او عقیده یې نه درلوده چې له هغو څخه د مسلمانانو مشر باید د محمد (ص) د سنتو سره سم ږیره ولري او میرمن یې په حجاب کې وي. د جناح د میرمنې د بې حجابۍ یوه بېلګه داسې ده چې د هغې پر بې حجابۍ باندې د انګرېزانو ښځې هم شرمیدلې دي، پېښه داسې وه چې«کله ولنګډن د بمبیي ګورنر ؤ نو هغه په خپل کور کې میلمستیا کړې وه چې په کې جناح صاحب هم سره د خپلې ښځې (چې پارسي وه) موجود ؤ، د ګورنر ولنګډن ښځه ډېره جابره [ښځه] وه هغه چې د مېلمنو ډلې ته وکتل نو مسز(میرمن) جناح جامې داسې اغوستې وې چې هغه د لېډي ولنګډن په اندازه د ضرورت نه کمې وې او د دغه موجود مجلس سره مناسبې نه وې نو لېډي ولنګډن خپل A. D. C (یاور) ته ووې چې د مسز جناح یخنې کېږي که شال ورله راوړې چې له ځان یې چاپېره کړي.




دا خبره هر چا [ناستو مېلمنو] واورېدله، جناح صاحب دا محسوسه کړه چې د هغه د ښځې بې عزتي وشوه او هغه سره د [خپلې] ښځې له دغې ډوډۍ نه ولاړ او په دا شان د ولنګډن او جناح صاحب تعلقات خراب شول.» (عبدالولي خان: رښتیا، رښتیا دي، پېرنګی- مسلم لیګ او مونږ. ۳۰مخ)

د محمد علي جناح میرمن د هند له زردشتي کورنۍ څخه وه، لومړنی نوم یې (رتن بایي پټیټ) ؤ چې وروسته یې د (مریم جناح) نوم غوره کړ، هغې یوه لور، د (دینا) په نوم، په ۱۹۱۹ز، کال کې وزېږوله، مریم جناح له محمد علي جناح جلا شوه او په لندن کې اوسېده، نوموړې په ځوانۍ کې، د ۲۹ کالو

--------------------------------------------------------



(د محمد علي یوازینی لور، دینا)

(*): د هند د اسماعیلیه فرقې د مشرانو په اړه د لیکنې په پای کې مالومات ولولئ.

په عمر مړه شوه، پاکستانیان مریم جناح (مادر حُریت) بولي (؟!)، محمد علي جناح بل واده ونه کړ او تر پایه له خپلې خور فاطمه جناح سره اوسېده.

جناح په لومړیو کې د هندوستان د کانګرس ګوند غړی ؤ خو وروسته د انګرېزانو په لمسون له کانګرس څخه ووت او د انګرېزانو لخوا جوړ شوي ګوند مسلم لیګ ته ورغلو، جناح د هند د کانګرس ګوند یوازې د هندوانو ګوند باله او واک ته د رسیدو په موخه د پاکستان په نوم د یو بل هېواد غوښتونکی شو.

په دې اړه فخر افغان پاچا خان وایي:«جناح د کانګرس ګوند د هندوانو ګوند باله، [په داسې حال کې چې] نوموړی په خپله هم په لومړیو کې د کانګرس په ګوند کې ؤ.» (عبدالغفار خان، پاچا خان: زما ژوند او جدوجهد. ۳۹۴مخ)
محمد علي جناح له کانګرس څخه د هندو او مسلمان د نظر د اختلاف له امله نه دی وتلی، هغه نه شول کولی د کنګرې له پر مختللي ایډیالوژۍ سره ځان عیار کړي، بل علت دا ؤ، هغو خلکو چې زاړه کالي یې اغوستل او د انګرېزۍ ژبې پر ځای یې په هندي ژبه خبرې کولې او د کانګرس صفونه یې ډکول نه خوښېدل. (کشف هند. ۶۰۲مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

په کانګرس کې د مسلمانانو ډېرو مهمو کسانو غړيتوبونه درلودل او د کانګرس مشرۍ يې په غاړه درلودلې، د مسلمانانو دوه ګوندونه: احرار او جمعيت العلماء چې د کانګرس له سياسي موخو يې ملاتړ کاوه د انګرېزانو له خوا تر سخت فشار لاندې وو او ډېر زيانونه يې ورواړول. (هماغه کتاب.۶۵۶مخ)

د هند د کانګرس ګوند چې له انګرېزانو سره د مبارزې په موخه د هندوستان مسلمانان، هندوان او بېلابېل توکمونه په کې راټول شوي وو، پر وړاندې يې انګرېزانو«په ۱۹۰۶ز، کال کې [دريم آغا خان سلطان محمد شاه] له انګرېزانو په الهام اخيستنې د مسلم ليګ په نوم ګوند جوړ کړ، مسلم ليګ [ظاهراً] دوه موخې درلودلې: انګرېزانو ته ژمنتوب او د مسلمانانو د ګټو ساتنه.» (کشف هند.۵۷۴مخ)

د کوزو پښتنو (پښتونخوا) په سيمو کې د مسلم ليګ ګوند د جوړولو په هکله د فخرافغان، زوی عبدالولي خان ليکي: «د پښتنو په سيمه کې د نوموړي ګوند [د جوړولو په موخه] مسټر محمد علي جناح پښتونخوا ته تللی ؤ خو جوړ يې نه کړای شو، هغه وو چې انګرېز مسټر (ټالن ټن) چې د چارسدې اسسټنټ کمشنر ؤ، له هر چا نه اول شروع وکړه، هغه خان بهادر سعد الله خان، د عمرزو راوغوښت سلا يې ورسره وکړه او د هشنغر، دواوی خانان، ملايان، وکيلان يې ملګري کړل او مسلم ليګ يې قايم کړو او دغه شان يې په ټوله صوبه کې خانانو، ملايانو، وکيلانو د حکومت په ذريعه مسلم ليګ جوړ کړو.» (رښتيا، رښتيا دي.۶۵۹مخ)

په پای کې د انګرېزانو په مرسته او لمسون او د مسلم ليګيانو په ټينګار پاکستان له داسې سيمو جوړ شو چې يوه برخه ځمکه يې له هندوستانه بېله کړه او بله برخه يې پخوا له افغانستان څخه په زور او ټګی سره بېله کړې وه او د پاکستان په نوم يې يو ناپاک هېواد رامنځ ته کړ.
پاچا خان د هند وروستي وايسرای مونټ بيټن ته وړاندوينه کړې وه چې «که ملک تقسيم شي نو د وينو لښتې به وبهيږي او د دې خونرېزۍ ذمه واري به د انګرېزانو په غاړه وي.» پاچا خان وايي چې مونټ بيټن راته فوري جواب راکړو چې زه تا ته پوره يقين درکوم چې زه به هېڅوک فساد او وينو بهولو ته پرې نه ږدم، يو وار چې تقسيم اصولاً ومنل شي نو بيا به زه حکمونه جاري کړم چې په ملک کې هېڅوک فرقه وارانه فساد ونه کړای شي خو بيا ټولې دنيا ته مالومه شوه چې د تقسيم د اعلان نه وروسته د ملک په ټولو برخو کې د وينو لښتې وبهيدل او بې ګناه ښځې او ماشومان قتل شول او د مسلمانانو او هندوانو د قتل عام د مخنيوي د پاره هېڅ سود مند تدبير ونه کړی شو.» (زما ژوند او جد و جهد. ۷۶۸مخ)
دواړو لورو ته مهاجرتونه پيل شول، په هند کې ډېرو مسلمانانو خپل کورونه هندوانو ته پرېښودل او په زور زياتي له خپلو مېنو وايستل شول، دا ډول په پاکستان کې له هندوانو سره ناروا وشوې او له خپلو کورونو وشړل شول، په دغه تاوتريخوالي کې تر نيم ميليون پورې خلک ووژل شول او هند او پاکستان تر منځ تر نن ورځې پورې دښمني روانه ده.«د پنجاب نه سيکانو د دېرشو او ځلوېښتو زرو تر منځ مسلماني ښځې وتښتولې.» (رښتيا رښتيا دي.۲۹۰مخ)

---

**سپړنه:** د هند د اسماعيليه ډلې د مشر او د مسلم ليګ ګوند بنسټ ايښودونکي او لومړنی مشر، دريم آغاخان محمد شاه حسيني د نسب لړۍ شپږمې هجري قمري پېړۍ، د ايران د الموت کلا د اسماعيلي باطنيه ملحدانو يو مشر کيا بزرګ اميد ته رسيږي چې د هغه مهال د ترهګرو مشر حسن صباح له مړيني وروسته د ايران د الموت اسماعيلي نزاريانو باطني ملحدانو مشر شو، دغې ډلې د تاريخ په اوږدو کې د مسلمانانو ډېر لوړ پوړي مشران د خپلو روزل شويو ځانمرګو په وسيله ترور کړي دي. کيا بزرګ اميد سربېره پر نورو ډېرو وژنو د مسلمانانو عباسي خليفه، المسترشد په (۵۲۹ هـ، ق کال) کې د خپلو ځانمرګو په لاس ترور کړ. (جمال الدين محمد بن سالم بن واصل: تاريخ ايوبيان لومړی ټوک،۹۵مخ، فارسي ژباړن: پرويز اتابکي.)

دا شان د کيا بزرګ اميد زوی محمد چې وروسته د بزرګ اميد له مړيني د اسماعيلي محلدانو مشر شو، خليفه راشد ترور کړ، خليفه راشد د خپل پلار المسترشد له وژلو وروسته د عباسي خلافت پر ګدۍ کېناست نو د خپل پلار د غچ اخيستلو او د اسماعيلي ملحدانو د له منځه وړلو په موخه له بغداد څخه د ايران د الموت کلا پر لور روان شو، خليفه په لاره کې ناروغ شو اصفهان ښار ته ولاړ خو په هغه ځای کې د ځلورو کسانو اسماعيلي ملحدينو لخوا په کال (۵۳۲، هـ، ق) کې د روژې په ۶مه نېټه د محمد بن کيا بزرګ اميد په امر ترور شو. (تاريخ ايوبيان لومړی ټوک، ۱۰۷مخ؛ مارشال، ګ، س، هاجسن: فرقه اسماعيليه، فارسي ژباړه: فريدون بدراه ای. ۱۹۲مخ)

دغه ډله د نولسمې ميلادي پېړۍ په لمړيو کې په ايران کې بيا ځلې راڅرګنده شوې وه، حسن علي چې لومړی (آغاخان) يې بولې، د دې فرقې له بلونکيو(داعيانو) څخه ؤ... حسن علي د انګريزانو د (استخباراتو) له خوا په ايران کې کودتا ته


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وهڅول شو چې له امله يې انګريزانو ته د مداخلې پلمه په لاس ورغله، د آغاخان لقب هم د انګريزانو لخوا ورکړ شوی دی. (مانع بن جماد جهني: شناخت اديان و مذاهب معاصر، فارسي ژباړن: م، ط، عطايي. ۵۱مخ)

آغاخان چې خپل ځان د حضرت علي او فاطمې له اولادی څخه بولي او هم يې ځان د وخت امام بللی ؤ، د هندوستان د اسماعيليه فرقې د مشرۍ (خواجه) دعوه يې هم کړې وه، هند ته د نوموړي ورتګ د هند په اسماعيليانو کې د خواشينې سبب شو، ځينو اسماعيليانو د آغاخان امامت نه منلو چې د مال لسمه برخه د مذهبي مالياتو په نوم ورکړي خو بيا هم په کال (۱۸۶٦،ز) کې د انګريز استعمار د سترې محکمې له خوا پريکړه وشوه چې د آغا خان په ګټه تمامه شوه ... .
(محمد بن زين العابدين خراساني فدايي: تاريخ اسماعيليه، الف مخ)

حسن علي د خلکو د غولولو او تېر ايستلو لپاره ډول ډول دروغ او خرافات ويلي دي، چې له دې لارې يې غوښتل، ځان د يو فوق العاده شخص په توګه معرفي کړي، تر څو له خلکو (مذهبي ماليه) راټوله کړي، نوموړي ځان د کراماتو او معجزو څښتن باله، د عيسی(ع) په شان يې د ړندو روغولو ادعا کړې ده او وايي: د سليمان (ع) په څير د غره ځناور يې حکم منوونکي دي.

حسن علي شاه د دې لپاره چې په خلکو باندې يې خپل (قلنګ) منلی وي او خپل مال يې ساتلی وي لاندې افساني جوړې کړي دي، وايي: د کراچۍ د تودې چينې سره نږدې حسن علي شاه ځای پر ځای شو چې په هغو اوبو کې څو نهنګان اوسيدل او هندوانو به هغه ژوي لمانځل او هر څوک چې هلته ورتلل نو يوه مېږه به يې نهنګانو ته د خوراک لپاره ورکوله... د هغه ځاې خلکو آغا خان ته وويل: ته هم بايد يوه مېږه هغو ژويو ته ورکړې، آغاخان وويل: زه مېږه ورکوم خو زما مېږه دغه نهنګان نه شي خوړلی، خلکو ورته وويل چې خامخا به يې وخوري، آغاخان مېږه راوغوښتله او د هغې پر ملا يې لاس تېر کړ او د نهنګانو مخې ته يې وروغورځوله، نهنګان له هغې مېږې راتاؤ شول خو خولې يې تړلي وې، هر څو چې خلکو کوښښ وکړ چې په ژويو باندې مېږه وخوري، ويې نه شوه خوړلی، په دې وخت کې سرکار آغا خان ننداره کوله او په خندا ؤ، وروسته هغه ټول خلک آغا خان ته په عاجزۍ راغلل، شاه حسن علي شاه وويل: وګورئ چې دا ځناور زما مال نه شي خوړلی خو خلک زما مال خپلو ځانونو ته حلال بولي او خوري يې، وپوهيږئ چې زما مال څوک نه شي خوړلی، په هر ډول چې وي زه به له دوی څخه خپل مال ترلاسه کړم، يا به يې د ناروغيو، درملو او حکيم په سبب او يا به يې د (نورو مشکلاتو) له لارې ترې واخلم... آغاخان هغو ځناورو ته وويل، مېږه وخورئ، تاسو ته حلاله ده، بيا هغو ژويو مېږه وخوړله. (هماغه کتاب،۱٦۷مخ)

وايي چې د حسن علي شاه له معجزاتو څخه يوه دا ده چې يوه ورځ يې د کراچۍ خلکو ته وويل: تاسو ته داسې څه دربښکاره کړم چې تاسې يې په لټه کې يئ؟ خلکو وويل هو، آغاخان څو کسانو ته وويل: هغه لويه تيږه واړوئ، هغه تيږه يې واړوله ويې ليدل چې د تيږې لاندې اژدها پروت دی او ډېر ماران او لړمان او نور چيچونکي او خوړونکي حيوانات د هغه ځناور پر خوړلو او چيچلو لګيا دي، وروسته آغاخان خلکو ته وويل: د دې مطلب دا دی چې دا ځناورهغه عالم دی چې د خدای له لوري ده ته د خلکو روزنه ور په غاړه شوې وه او هم د ماليې د ټولولو مسؤليت ور په غاړه شوی ؤ چې بيا يې زما د مال په ټولولو کې خيانت کړی ؤ. (هماغه.۱٦۷مخ)

دا شان د نوموړي له خوشي افسانو څخه يوه داسې ده چې وايي: آغاخان چې لا ماشوم ؤ نو ويې ليدل چې يوه هوسۍ او دوه ورې د ده پر لورې منډې وهې او شا ته يو ليوه ورپسې دی، کله چې ليوه آغاخان وليد ځای پر ځای ودريد، هوسۍ او دوه ورې د آغاخان خوا ته نږدې راغلل او په بې ژبې ژبه يې څه ورته وويل او ترې ولاړل خو ليوه په هغه ځای کې وچ پاتې شو... . (هماغه. ۱۵۰مخ)

لومړی آغاخان حسن علي شاه په (۱۸۸۱،ز) کې مړ شو. د حسن علي شاه له مريني وروسته، آغا علي شاه دوهم آغاخان وټاکل شو، وروسته له ده څخه د ده زوی سلطان محمد شاه حسيني دريم آغاخان وټاکل شو، نوموړي په اروپا کې ژوند کول غوره کړ، د نړۍ په ډېرو سيمو کې ګرځيدلی دی نو کله چې مړ کيده خپل ځای ناستی يې خپل لمسی کريم آغا خان وټاکه چې دا ډول ټاکنه د اسماعيليانو له اصولو خلاف عمل ؤ ځکه چې د دوی په قانون کې مشر زوی د پلار پر ځای ټاکل کيږي.

څلورم آغاخان کريم له (۱۹۵۷،ز) کال راپه دېخوا تر نن پورې د اسماعيليانو مشر دی، کريم خپلې زدکړې د امريکا په يوه پوهنتون کې تر سره کړې دي، لکه وړاندې چې وويل شول، د کريم آغا خان نيکونو د نړۍ په تاريخ کې سترې ترهګريزې کړنې او جنايتونه ترسره کړي خو کريم آغاخان د خپلو نيکونو په څېر ترهګر نه دی نوموړی په خپلو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

عیاشیو کې بوخت دی او د نړی له سترو پانګوالو څخه دی چې اوسمهال د هغه شتمني ۱۳،۳ میلیاردو ډالرو ته رسیږي او ډېری خیریه چارې هم ترسره کوي.



(درېیم آغاخان، سلطان محمد شاه حسیني او د هغه میرمن)



کریم آقا خان (آغا خان) رهبر مذهبي اسماعلیه Kabul Press

نېټه:۱۴۰۲/۱/۱۹ل. ل

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په څیر و لولـئ